انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱٦/۱۲/۱٤

# د افغانستان لیتیوم او د زیرمو لوټ

دریمه برخه او پای

همدارنګه (۳۸) کاله کیږی چې د بدخشان د لاجوردو معادن په ټولو ساحو یعنی د سرسنګ ، لاجورد شو او درة سخی په معدنونو باندی د دولت واک نشته او د منطقی د زورمندانو له خوا په غیر فنی توګه د استخراج لاندی دی. (په دی وروستیو کی د دی معدن څخه د شخصی ګټه پورته کونکو په نوملړ کی د استاد ربانی د کورنی نه پرته د پخوانی داخله او بیا د دفاع د وزیر بسم ا لله خان محمدی او د ولسی جرګی د ځینو غړو د فوزیه کوفی په ګډون، نومونه هم ورزیات شول.)

له (۳۵) کالو نه زیاته موده کیږی چې د هیواد په شمال کی چې ( امنیتی شرایط یی د هیواد له جنوب څخه نسبتاً ښه دی) هم د مالګی معادن، د ذغالو معادن، د تخار په ولایت کی د نورابی او سمتی، حصار او انجیراو ورسره د دبدخشان، زابل اود غزنی د زرکشان اونورو ډیرو سیمو کی د طلاو معادن او د مستقیمی ګټی اخستنی نور معدنونه د دولت له واکه وتلی او سیمه ایزو زور واکانو او وسله والو قوماندانانو ور باندی خیټه اچولی ده. د هیواد په غرب، جنوب او شرق کی خو اصلاً افغان دولت د کانی شتمنیو په نوم کوم څه نه لری چې یاد ونه یی وشی، که هرڅه وی هغه د دولت له واکه وتلی او د ټوپکوالو ګروپونواو د معدنونو د قاچاقبرانو په تسلط کی دي.
د اوروزګان په ولایت کی د باخوت د فلوریتو او د هرات په ولایت کی د سنګلان اود پروان په ولایت کی د غوربند دفرنجل د باریتو معدنی زیرمی اوس نوری مخ په ختمیدو دی.
د لوګر ولایت په سپین کلا او نورو سیمو او همدارنګه د پکتیا په ولایت کی د شدل د ازبستو معدنی کتلی هم په پراخه پیمانه اوس هم پاکستان ته ځی. حتی د لوګر دولایت نه خو د ګلی سرشوی ختی او ورسره د کرومایتو خامی ډبری هم هره ورځ د پاکستان په لور روانی دی، خو په ټول افغانستان کی یی د راستنیدو څوک نشته دی.
که د حا لاتو زیاته څیړنه وکړو نو د ننګرهار ولایت د شینوارو په سیمه کی د تلک (شوکانۍ) ډیر د عالی سُرت معدنونه د اچین،سپین غر او هسکی مینی په ولسوالیو کی موجودیت لری او د کانو او جیالوجی د اداری له خوایی اکتشاف کارونه ډیر کلونه پخوا سرته رسیدلی دی، خو د انقلابونو له دوری نه لا پخوا د محل د خلکو له خوا په غیر فنی ډول استخراجیږی او پاکستان ته وړل کیږی، خو د مخنیوی یی څوک نشته.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د هیلمند د ولایت په جنوب د رخام د ډبرو دری ستر معدنونه د ( مالک دوکان، آربو او زولداک ) په نومونو وجود لری، دادری واړه معدنونه تقریباً په یو ساحه کی د پاکستان د تسلط لاندی د بلوچستان او افغانستان د سرحد په (۳) او (۶) کیلو متری کی قرار لری. د مطالعاتو او څیړنو وروسته ( چی ما خپله همک هلته ساحوی کار کړیدی) داسی نیتجه په لاس راغلی چی د دی معدنونو د رخام ډبری په نړی کی د لوړ ترین کیفیت لرونکی دی. وروستی نا تائید شوی راپورنه داسی څرګندوی چی اوس یی د مجموعی زخیری ډیره کمه برخه پاتی ده او نور ټول معدن د پاکستانی او افغانی قاچاق وړونکو له خوا چپاول شوی او له منځه تللی دی.

همدارنګه ټولو ته به شاید پته وی چی د هیلمند ولایت د خان نشین د ولسوالئ په مربوطاتو کی په همدی نامه ( خان نشین) د یورانیومو ( چی راډیواکتیف عنصر دی او د لوړی انرژی د حاصلولو په منظور په صنعت کی تر کار اخستل کیږی او د ستراتیژیکو عناصرو له جملی څخه دی) یو معدن په دوه برخو (شمال او جنوب) کی موقعیت لری. په جنوب کی د یورانیومو د عنصر لرونکی کتلی تر (۲) کیلو مترو پوری طول اوتر (۲۵) مترو پوری عرض لری چی د یورانیومو مقدار پکی له ( ۰،۰۰۶) سلنی څخه تر ( ۰،۰۱۵) سلنی پوری او د بل راډیو اکتیو عنصر توریوم مقدار پکی له (۰،۰۰۲) سلنی څخه تر (۰،۰۱) سلنی پوری تثبیت شویدی. دویم معدن یی په شمالی برخه کی دی چی د معدن لرونکی کتلی له ( ۱،۵) کیلو مترو څخه تر (۳) کیلو پوری اوږدوالی،له (۱۴) نه تر (۵۸) مترو پوری عرض او تر د (۱۰۰) مترو پوری ژوروالی لری. د یورانیومو مقدار په بیلو منرالونو کی تفاوت لری چی وسطی مقدار یی له (۱،۱۴) سلنی څخه د (۵،۷۸) پوری تثبیت شویدی.

کیسه به را لنډه کړو او وبه وایو چی د ډاکتر نجیب الله د زمامداری په اوایلو کی دا اوازی خپری شوی چی د هیواد له شمال د سرپل له ولایت څخه روسان د یورانیومو زیرمی خپل هیواد ته اود هیواد په جنوب کی د خان نشین د یورانیومو زیرمی د پاکستان د دولت له خوا چور چپاول کیږی. هغه وخت ډاکتر محمد طاهر ګیرووال د کانو او جیالوجی رئیس و، زمونږ د اداری روسی مشاور (بریزی) له هغه نه و غوښتل چی په یوه رادیو مرکه کی دا مسئله رد کاندی. ډاکتر ګیرروال له مانه چی په دی وخت کی د کانو او جیالوجی د ساحوی چارو مسؤل وم و غوښتل چی په دی رادیو ګردی میز کی برخه واخلم او دا مسئله رد کړمه. ما سر مشاور بریزی او ډاکتر ګیرووال دواړو ته و ویل چی زه د دی موضوع په هکله هیڅ معلو مات نه لرم او نه په داسی موقف کی یم چی په دومره لویه او مهمه موضوع باندی وغږیږم، زما په نظر بهتره به داوی چی په دی هکله د کانو او صنایعو وزیر او یا هم د وزارت معین و غږیږی. دا خبره د سر مشاور (بریزی) هم خوښه شوه او د کانو او صنایعو د وزارت د معین انجنیر امتیازحسن له خوا په یوه رادیویی خپرونه کی په دی هکله د رد نظر وړاندی شو. په هر صورت اوس نه پوهیږم چی د دی مهم عنصر د معادنو به زمونږ په هیواد کی څه حال وی.

راځی و ګورو چی زمونږ په هیواد کی د قیمتی ډبرو او یا د زیوراتو او تزئیناتو د ډبرو یعنی (Gems And Decorative Stones) حالات څه ډول دی؟

په دی ګروپ کی دغه لاندی ډبری شاملی دی:

یاقوت (Ruby)، زمرد (Emerald)، کونزایت (Kunzite)، ګارنیټ (Garnet)، لاجورد (Lazurite or lapis lazuli)، سرپنتینایت(Serpentine) یا د شامقصود ډبری، سفیر (Spar) تورمالین (Tourmaline) او د کوارتسی (Quartz) ډبرو بیلا بیل انواع.

د یاقوتو یواځنی معدن چې تر او سه پورې په ټول هیواد کی مونږ ته معلوم دی هغه د کابل په ولایت پورې مربوط د سروبی په ولسوالی کی د جګدیلک د سیمی معدن دی. د معدنی کتلی اوږدوالی تر (۲،۵) کیلو مترو پورې رسیږی. معدنی کتله د پروتیروزوئیک (قدیمی) دوری مرمرونه دی چی د یاقوت تشکیلات په پیګماتایتی ـ ګنایسی طبقاتو کی مشاهده شویدی. د جګدیلک د مرمرو په هکله یوه په زړه پوری کیسه چې اوس معلومه شویده داده چی د تاج محل ودانی د هندوستان په هیواد کی د نړی له پنځو عجایبو څخه ده چی د شاه جهان مغلی پاچا په وخت کی ودانه شویده ، په دی ودانی کی کاریدلی مرمر له همدی سیمی یعنی جګدیلک څخه وړل شویدی. نن یی یاقوت چی په عمده توګه د جمعیت اسلامی د تنظیم د قوماندان محمدانور جګدلک په قبضه کی دی، بی له کومی ویری او ممانعت څخه د نړیَ په بازارونو کی په آزاده توګه پلورل کیږی.

د زمردو په هکله مو مخکی خبری وکړی چی پنځه معدنونه یی په پنجشیرکی دی چی نومونه یی دادی: خنچ، مکینی، دشت روت، بزمال او دارون. یو معدن یی د کونړ ولایت د باډیل په سیمه کی دی چی دا ټول اوس د دولت له لاسه وتلی او د زورمندانو د شخصی تصرف لاندی دی.

د کونزایتو (Kunzites) معدنونه چی تر اوسه کشف شوی او د مقدماتی اکتشاف تر مرحلی پوری مطالعه شویدی په لاندی سیمو کی موقعیت لری:

ـ د لغمان و لایت د کولام په سیمه کی چی په زیوراتو کی د استعمال زخیره یی ۲۲۲۶،۶ کیلو ګرامه محاسبه شویده.

ـ مندوکول د بدخشان په ولایت کی ، زخیره یی نه ده محاسبه شوی.

د ګارنیتو (Garnets) یواځنی معدن چی تر اوسه مونږ ته معلوم دی هغه د کونړ په ولایت کی د پچیګرام معدن دی چی د معدنی کتلی اندازه یی تر (۷۰۰) مترو پوری اوږدوالی او تر ( ۵۰) مترو پوری عرض لری او د ګارنیتو د دانه داریت اندازه تر (۵) ملی متر پوری رسیږی. صنعتی زخیره یی نه ده محاسبه شوی او لا د کشف نه د مخه د محلی خلکو د استفادی لاندی و او تر ننه دوام لری.

د لاجوردو د معدنونو په هکله هم مخکی خبری شویدی دلته باید همدومره زیاته کړو چی، همدا اوس د نړیَ د زیوراتو په بازارونو کی د افغانستان لاجورد، زمونږ د دولت مدارانو د بی کیفایتي له کبله د پاکستان د دولت د محصولاتو په نامه د خرڅلاو مارکیټونو ته عرضه کیږی، خو مونږ د دی قابلیت نه لرو چی دی ستر تجارتی محصول ته د خپل هیواد د نامه سره پیوند ورکړو.

د سرپنتینیتو یا شامقصود د ډبرو معدنونه په پوره توګه نه دی مطالعه شوی خود په ځینو برخو کی یی مقدماتی سروی شویده، او هغه سیمی عبارت دی د کندهار د ولایت د زمبورک سیمه، سیرداغ سیمه،شاه مقصود سیمه،د زابل د ولایت د لاجر سیمه، د کابل د ولایت د ماهیپر سیمه او د ننګرهار د ولایت د زاوی سیمه. دزخیری اندازه یی نه ده معلومه خو د ډیرو زمانو را هیسی د محلی خلکو له خوا په غیر فنی توګه تری استفاده روانه ده.

تورمالین: (Tourmaline) دا د قیمتی ډبرو په منځ هغه ډبره ده چبی په بیلابیلو رنګونو بیدا کیږی او که د ښه سُرت په ښه پیدا شی نو قیمت یی له زمرودو نه کم نه دی. د دی قیمتی ډبری معدنونه د کونړ ولایت د کانتیوا، پاپروک او چپی دری په سیمو کی او همدارنګه د لغمان و لایت د کورغال په سیمو کی کشف شویدی. یواځی مقدماتی سروی یی شویده نو له دی کبله د زخیر او کوهی شریطو په هکله یی کره معلومات په لاس کی نشته. د یاد ونی وړ ده چی دا قیمتی ډبره علاوه له زیوراتو څخه په لوړ تخنیک کی هم کاریږی.

کوارتز (Quartz) د قیمتی احجارو په منځ کی هغه نوع ده چی نسبت نورو قیمتی احجارو ته په زیاته اندازه پیداکیږی. د دی ډبری یوائی شفافه او بی درزه بڼه یی د زیوراتو په صنعت کی استعمال لری او د نورو مرکباتو لویه برخه یی د شیشه سازی په صنعت کی په زیاته پیمانه استعمالیږی. زمونږ په هیواد کی یی د شفاف نوعیت معادن په لاندی سیمو کی وجود لری: کونړ ولایت په کانتیوا کی، پچیگرام کی، چپه دره کی، دره نور کی، د بدخشان په ماندوقل، دراوسو، د کندهار په پیتاو، د زابل په کوروتکا، د پکتیا په علم خان، شمالی او زندرگری سیمو کی په زیات مقدار سره پیداکیږی او اوس په مطلقه توگه د دولت له کنترولە وتلی او په زورمندانو پوری تعلق لری.

برسیره پر پورته زکر شوو معدنونو چی د ټولو کنترول د دولت له لاسه وتلی دی او په مکمله یا نیمه مکله توگه د ټوپکمارانو او د هغوی د خارجی دوستانو په لاس کی دی، ډیره د خواشنی خبره داده چی موجود افغان دولت حتی د کابل په شش کوهی سیمو کی هم د کنترول واک نه لری. پام وکړی دی یو څو مثالونو ته:

د سردار محمد داودخان د ریاست جمهوری په دوره کی د کابل د ښار پاره نوی پنځه ویشت کلن انکشافی پلان جوړشو او د کانو او صنایعو وزارت ته وظیفه ورکړله شوه چی د کابل په شاوخواکی د ساختمانی موادو د سروی په لټه کی شی. د داود خان د رژیم تر نسکوریدو وروسته هم دا پلان په خپل قوت پاتی شو. خلقی دولت په دی پلان باندی له سره کتنه وکړه او تر څه تغیراتو وروسته یی بیاهم د کابل ښاروالی، د ښارجوړولو وزارت او د کانو او صنایعو وزارت ته ځانگړی وظایف ور وسپارل. د سروی معادن او جیالوجی د ریاست په چوکاټ کی د ساختمانی موادو د سروی گروپ چی لا د مخه د عینک د مسو د کان د کارگرانو د پاره د یو صنعتی ښارگوټی د جوړیدو د پاره په تشکیل کی موجود و، لاپسی پراخه شو او د انجنیر مسعود رحیم په سر انجنیری یی په کار پیل وکه. دی گروپ د اتو کالو په اوږدو کی د کابل د ښار په ۳۰ کیلو متری کی د ۴۰ نه زیات د شگو Send ، جغل Gravels، د خښتو جوړولو د پاره خاوره Clay for Bricks، د تهداب د پاره ډبری Foundation Stones، د فرش د پاره ډبری Flooring Stones، د چونی ډبری Limestone and Dolomite، او د سمنټو جوړولو د پاره ډبری اود نورو خامو مواد، معدنونه کشف او په دقیقه توگه د صنعتی کتگوریو په شول معدنی زخیری، د معدنونو د فزیبیلیټی راپور سره یوځای مربوطو مقاماتو ته وسپارلی. د کابل ښاروالی او د کابل ولایت مقاماتو ته وظیفه ورکړله شوه چی د نومړو معدنونو ساتنه به کوی او هیڅ شخصی موسسی ته به د هغی د استخراج اجازه نه ورکوی.

کله چی د نجیب الله دولت سقوط شو، د مجاهدینو د راتگ سره سم جنگونه پیل شول او په لنډه موده کی د کابل ښار په کنډواله بدل شو، طالبان راغلل او ټول کارونه په ټپه ودریدل، د امریکا له مداخلی وروسته د کرزی اداره جوړه شوه، د ډالره باران په خواصو راپیل شو، د کابل په ښارکی د لوړبوړو ودانیو مسابقه پیل شوه، ساختمانی شرکتونه را منځ ته شول او په غیر فنی توگه له پخوانیو کشف شوو معدنونو نه گټه احستنه پیل شوه. اوس هم دا لړی روانه ده د کابل د ښار پنځه ویشت کلن انکشافی پلان هم د هغه د لومړنیو طراحانو په څیر خاورو ته وسپارل شو، او د کابل په شش کروهی کی ټول معدنونه تخریب شول

اوس به دی ته انتظار کاږو چی د همداسی بی کیفایته دولتی زعامت په وجود کی به د ټول افغانستان د معدنی زخیرو جنازه کله خاورو ته سپارله کیږی او د امریکا د جیالوجیکی موسسی د دری ټریلیونو ډالرو هوای را پوربه چی د حقیقت سره هیڅ اړخ نه لگوی کله د دنیا د جیالو جیکی څیړونو د تفتیش لاس ته ورځی تر څو نړیوال په دی و

پوهیږی چې استعماری طاقتونه د خپل سیاسی او اقتصادی تسلط د پراختیا او ساتنی د پاره د هیڅ ډول غلونکو او دروغجنو لارو څخه د ملتونو د اغوا او غولونی د پاره ډه ډه نه کوی.

په آخر کی باید عرض کړم چې زما د معلوماتو او د خپل مسلک سره د مینی لرلو له کبله باید د وطنوالو غوږونو ته دا ورسوم چې همدا شیبه ستاسو د وطن د ملی شتمنیو د معدنی برخی څخه د پنځه سوه نه زیات لوی او واړه معدنونه د هیواد د زورواکو، او نړیوالو قاچاق برانو په لاس کی دی او د موجوده دولتی زعامت ډیر خیری د دی شتمنیو په لوټ او تالان کی ونډه لری. هر څومره چې کولی شی د دی مهمی حیاتی مسئلی په افشاء کیدو کی برخه واخلی او خپل وطنوال په دی وپوهوی چې د دی شتمنی د چور چپاول په نتیجه کی به د ا وطن د تل د پاره سوالگر او گدای گر پاتی شی.

په ټوله دنیا خصوصاً په گران هیواد افغانستان کی د هر پردی د هر ډول تسلط د ختمیدو په هیله. پای. د دسمبر/۵/ ۲۰۱۶ کال. تورنتو ــ کانادا.

په دی مقاله کی د لاندی اثارو نه گټه اخستل شویده:


۱ ــ د افغانستان د (۱:۵۰۰،۰۰۰) دنقشی جیولوجیکی راپور ۱۹۷۷ کال د لیننگراد ښار

۲ ــ د افغانستان د (۱:۵۰۰،۰۰۰) د نقشی د معدنی موادوراپور ۱۹۷۷ د لیننگراد ښار

۳- Identification of Mineral Resources in Afghanistan
Open – File Report ۲۰۱۱.
US Geological Survey, Reston, Virginia: ۲۰۱۱

٤- Afghanistan Lithium Wealth Could Remain Elusive.
By: Heury. J. Reske. National Geography. June/۱۷/۲۰۱۰

۵: زما یاداشتونه

۶: د کابل د ښار د ۲۵ کلن پلان د تطبیق د پاره د کابل په شا او خوا کی د ساختمانی موادو
را پور ۱۹۹۰ کال د افغانستان د کانو او جیالوجی د اداری ارشیف.


**پایان**